ترخــو پلټونکــي ډلــه و کــولای شــي د هغــه پــه موندلــو د تاســو لــوری معلــوم کــړئ.

• کــه پــه واوره ښــویدنه کــې لانــدې شــوي یاســت هڅــه وکــړي د خپــل لاســونو پــه مرســته د یــو پاکــټ اویــا هــم پلاســتیک ســره خپــل مــخ و پوښــوئ .

## د واورې ښـویدنې ځخـه وروسـته کړنـې ( اقدامـات ):

• دژغورنــې ټیمونــه د د ځانــی زیانونــو مخنیــوی پــه موخــه پــه بیــړه لاس پــه کارشــی .

• دزیانمنــو دژغورنــې ټیمونــه د لــه پــوره احتیــاط ځخــه کار واخلــی او داحتمالــی خطراتــو لپــاره د چمتــو اوســئ.

• بایــد پــه واوره ښــویدنې ( بــرف کــوچ ) کــې لکــه چــې پــه اوبــو یاســت ولامبــۍ ترخــو خپــل ځــان د واورې ســر تــه ورســوی.

• لــه دي املــه چــې د واورې لانــدې ټولــه ســیمه تیــاره ده او شــوني ده چــې د واورې ښــویدنې د پیښــیدو پــه وخــت د واورې لانــدې و نشــو کــړاي و پوهیــږو کــوم لــوري پــاس خواتــه دي کــولای شــو د خولــې د لاړو پــه تــو کولــو ســره د ( جازبــې قــوې ) ســره پاســنی خــوا و پیژنــو.





د اړیکې شمیرې:۰۷۲۸۹۰۰۱۰۳ / ۰۷۹۹۶۵۲۸۹۳

پوسټ بکس: ۳۰۶۶

برښنالیک پته: dis@redcrescent.af

ویب پاڼه: www.redcrescent.af

**افغانستان، کابل، پنځمه ناحیه، افشار سیلو، د افغاني سرې میاشتې ټولنې مرکزي دفتر**

# واوره ښویدنه

۱۳۹۶



واوره ښويدنه د غرونو له لمنو څخه د واورې د يوې لويې ټوټې چټکې ښويدنې څخه عبارت دي چې د تيرو او نباتاتو سره يو ځاى د غرونو له لمنو څخه ښکته را لويږي او بشري تلفات او زيانونه رامنځته کوي .

## د واورې ښويدنې لاملونه ؟

واوره ښويدنه د ژمي په موسم کې د لوړو او جګو غرونو له لمنو څخه د واورې د چټک حرکت له امله ښکته (نشيب) لوري ته رامنځته کيږي .

د واورې لويه برخه په نشيب داره سيمه کې ټينګيدې نشي ، ځينې وختونه بهرنې لاملونه لکه د انسانانو ،حيواناتو،عرادجاتوتګ راتګ، چليدونکي باد او ... په هغه زياتيږي او د واورې د يوې ټوټې د بيځايه کيدو سره مرسته کوي او په پايله کې د واورې ښويدنې لامل ګرځي

## د واورې ښويدنې لاملونه په لاندې ډول دي :

• د هوا حالات، د تودوخې درجې، بارانونه، د باد چلند او د باد لوري ته د واورې شتون.

• د واورې لويه برخه په ټيټه او لوړه



اندازه ، د واورې شتون د( تيرو، غټو ونو او ...په سر.

• د ځمکې سطحې نشيب والى کولاى شي کوچنى، منځنى او لويه واوره ښويدنه رامنځته کړي

## د واورې ښويدنې څخه مخکنى کړنې ( اقدامات) :

• نورو کسانو ته د غره ختل او ګرځيدنې د پروګرام په هکله خبر ورکړې.

• کوښښ وکړى دواورى ښويدنى له مسير (دجګو غرونو لمنو )کى تګ راتګ ونکړى .

• دواورى ښويدنى مسيرونه چى ترمخه په هغه ځايونو کى واوره ښويدنه رامينځ ته شوى وى نښه او د عامه خبرتياوى نښې پرى وکاروى.

• د اړيکو د نښلولو ( برقرارولو) وسايل ( بې سيم ، مبايل ټيلفون او ...) بايد له ځانه سره ولرى.

• هر ډول ختل بايد د لازمو وسايلو او غره ګرځيدنې وسيلو لکه فني، پوښاکې، خوراکې، مرستې رسونې او ... سره مل وي.



• د تګ په وخت کې کرار ؤ اوسې ترڅو د غږ ارتعاشات د واورې د ښويدنې لامل نشي، ارتعاش د واورې ښويدنې يو له مهمو لاملونو څخه ګڼل کيږي او د پيژندل شويو لارو څخه تير شئ.

## د واورې ښويدنې پرمهال (په منځ کې کړنى (اقدامات):

• د واورې ښويدنې ډيرې مړينې د ساه بندې له امله رامنځته کيږي. لدې امله د هوا ننوتو ته لاره پرانستل ډيره مهمه دنده ده چې تاسو کولاى شى اجرا يې کړئ .

• په هره وسيله چې کولاى شى خپله خوله او پوزه و پوښوى .

• ټول وسايل په ځانګړې توګه فلزي او پرې کونکې وسايل له ځانه څخه ليرې کړئ.

• امنو سيمو ته تښتيدل، يانې لکه د لامبو په څير د واورې پرمخ پاس،کيڼ اويا هم ښې خواته وتښتئ .

• د مخنيوى عواملو لورې ته ( لکه تيرې، نيالګې او نور... ) خواته حرکت ونکړئ.

• که شونې وي د واورې د لاندې کيدو څخه وړاندې خپل وسايل پورته واچوئ